UNITED NATIONS
AFGHANISTAN

**PRESS STATEMENT**

3 May 2025
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**د مطبوعاتو د آزادۍ نړیواله ورځ: په افغانستان کې ملګري ملتونه د رسنیو د ملاتړ غوښتنه کوي**

**کابل** - د مطبوعاتو د آزادۍ پر نړیواله ورځ، په افغانستان کې ملګري ملتونه د هیواد له رسنیو سره خپل پیوستون څرګندوي، چیرته چې د واکمنو چارواکو له محدودیتونو څخه نیولې تر اقتصادي ناخوالو پورې اړینو معلوماتو ته د خلکو لاسرسی  له جدي ګواښ سره مخ کړی دی.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې، روزا اوتنبایوا د دې ورځې پر اهمیت له ټینګار سره وویل: "د مطبوعاتو د ازادۍ نړیواله ورځ په افغانستان کې د خبریالانو او رسنیو ارزښتناکه رول په ګوته کوي. رسنۍ او خبریالان د یوې باخبره او فعاله ټولنې بنسټ جوړوي او د دوي رول باید خوندي وساتل شي."

آغلې اوتنبایوا زیاته کړه، "یو هر اړخیز او سالم رسنیز سکتور له روڼتیا څخه د ډاډ تر لاسه کولو، د ولس باور، او ښې حکومتولۍ لپاره اړین دی. خو په افغانستان کې موږ د آزادو او خپلواکو رسنیو د دوامداره زوال شاهدان یو."

د افغانستان رسنۍ د هیواد د اقتصادي ناورین له امله د عوایدو له شدید کمښت سره مخامخ شوي، چې دغه وضعیت بیا ګڼ شمیر رسنۍ تړل کیدو ته اړ کړې دي. پر دې سربیره، د افغانستان د واکمنو چارواکو لخوا د پراخو محدودیتونو وضع کیدل د دې لامل شوي چې د رسنیو مسلکي کسان له ګواښونو، نیول او بندي کیدو، شکنجې او او همدارنګه له بد چلند سره مخامخ شي، چې ښځینه خبریالانې بیا په ځانګړي توګه د خطرونو او خنډونو له امله په شدیده توګه اغیزمنې شوې دي.

په همدې توګه، افغانستان هم د مصنوعي ځیرکتیا (AI) د چټک پرمختک اړوند ننګونو  څخه خوندي نه دی. مصنوعي ځیرکتیا د ۲۰۲۵ کال د مطبوعاتو د آزادۍ د نړیوالې ورځې د نمانځنې پراخ بحث جوړوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د تعلیمي، کلتوري او فرهنګي برخې یا یونیسکو استازې، پاتریشیا مکفیلیپس وویل: "مصنوعي ځیرکتیا د پراخو ګواښونو سره مل ده: کیداې شي د ناسمو معلوماتو د تولید، غلطو معلوماتو خپریدو، د کرکجنو ویناوو پیاوړي کولو، د خلکو او خبریالانو د سانسور او څارنې د نویو ډولونو کارولو په برخه کې ترې غلطه ګټه واخیستل شي، چې دا به د بیان پر آزادۍ ناوړه پایلې له ځان سره ولري."

آغلې مکفیلیپس زیاته کړه، "دا پدې مانا ده چې ملي او نړیواله همکاري تل بل هر وخت ډیره اړینه ده."

***